مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ ۲۰۲۳/۰۸/۲۶

# د جمهوریت د سقوط عوامل
## د جنګسالارانو ونډه

(درویشتمه برخه)



(ملا مارشال محمد قسیم فهیم)

### جنایتکاران او د چاراواکو ملاتړ

د جمهوریت پر مهال یو شمېر ورانکاري وسله وال، غله، جنایتکاران او جنګسالاران چې د حکومت لوړپوړو چاراواکو او په ملي شورا کې د اړونده وکیلانو لخوا یې ملاتړ کېده، د جمهوري حکومتونو په کمزوري کولو او د طالبانو په پیاوړتیا کې یې پوره ونډه درلوده، دغو فاسدو ډلو ټپلو په کابل او ولایتونو کې هر ډول تېریو، چور او چپاول ته لاس اچولی ؤ، په ځانګړي توګه د هېواد په شمالي ولایتونو کې یې له لړګیو پښتنو سره خورا تېري کوونکي او سپکوونکي کړني په منظمه او پلان شوي توګه ترسره کړي دي. د ځایي جنګسالارانو پر ملاتړ، اوزبکو او تاجکو، ټول پښتانه، هغوی چې له طالبانو سره یې هېڅ اړیکي نه وې، د طالبانو په نوم ځورول، ځمکې او کورونه یې ترې ونیول، څاروي او پیسې یې ترې لوټ کړې چې دا ډول ناوړه کړنې تر پایه روانې وې، هغه وو چې پر وړاندې یې ځایي پښتنو غبرګون ښکاره کړ، هغوی چې طالبان نه وو، طالبان شول او وسلې ته یې لاس کړ، ترڅو له خپل ځان او مال څخه ساتنه وکړي او ځیني نور هجرت ته اړ شول.

علي احمد جلالي چې هغه مهال د کورنیو چارو وزیر ؤ وایي چې په شمالي افغانستان کې چې پښتانه په کې د تاجیکو او اوزبیکو په اکثریتي سیمو کې اقلیت دي، د توکمیزو ملېشو هدفي تاؤتریخوالي او لوټمارۍ، د پښتنو جرړې واېستلې. تاؤتریخوالي تر یو لک زیات پښتانه د خپلو کورونو او روزګار پرېښودو ته اړ کړل او د هېواد سوېل ته وکوچېدل. (د افغانستان نظامي تاریخ. ژباړن: متقاعد سترجنرال شېر محمد کریمي. ۵۵۰مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«د دوستم ملېشو عام وګړي تر دې کچې ولوټل چې خیریه موسسو د هغه په ساحه کې فعالیت ته زړه نه ښه کاوه، په رزګونو پښتانه اړ شول د دوستم د ځواکونو له وېرې سیمه پرېږدي.» (زلمی خلیل زاد: استازی: ۱۷۴مخ)

په افغانستان کې امریکایي جنرال پټریوس د محلي پولیسو په نوم ځواکونه رامنځته کړل چې ډېری یې د سیمې خپل سري، رټل شوي او شړل شوي جنایتکاران وو، محلي پولیس چې اربکي یې هم بلل په خپلو اړونده سیمو کې د خپلو ظلمونو له امله په لږ وخت کې مشهور شول، د هېواد په شمال کندوز کې یې پښتانه د طالبانو په نوم ووژل، جنسي تیري یې وکړل، خپل سري نیونې او ځمکې یې تري غصب کړې، د دوی ناوړه کړنې د بشر حقونو سازمان په یوه اعلامیه کې هم خپرې شوي دي.

«د کندوز په ولایت کې چې اکثریت اوسېدونکي یې پښتانه دي، لږ تر لږه ۴۰ فیصده خلکو د طالبانو طرفداري کوله، د دې علت دا ؤ چې پر هغوی باندې د سیمې اوزبیکو او تاجکو جنګ سالارانو ظلمونه کړي وو، له هغوی څخه یې مالونه او جایدادونه غصب کړي، شکولي او ډېرې زیاتې مالیې یې ورځخه اخیستې او کلهکله خو به یې وحشیانه سلوک ورسره کړی وو.

له ۲۰۱۰ز، کال څخه وروسته تاجک او اوزبیک د حکومت په محلي پولیسو کې شامل سول، دې محلي پولیسو له پښتنو څخه په زور پیسې اخیستلې او ځمکی یې ورځخه غصبولې.» (کارتر ملکازیان: په افغانستان کې د امریکا جګړه. ژباړن: عبدالباري جهاني. ۵۹۶ مخ)

موږ په کابل کې څو ځلي لیدلي دي چې له شمالي ولایتونو ډلې، ډلې د پښتنو سپینږري او مشران راتلل، ولسشمر کرزي او نورو چارواکو ته یې شکایتونه کول، له بده مرغه چې په کابل کې چارواکو په شمال کې پر زورواکو او جګړه مارانو اغېز نه درلود.

اوسمهال چې له پاکستان او ولایتونو څخه هغه پښتانه مهاجر چې په جمهوریت کې هجرت ته اړ شوي وو، خپلو کورونو ته ستنېږي د حکومتي چارواکو په مرسته خپلې غصب شوي ځمکې له زورواکو څخه خپلوي، د امارت په چارواکو پسې د مخالفینو لخوا ډول، ډول تبلیغات کیږي چې ګواکې له تاجیکو او اوزبکو څخه په زور د هغوی ځمکې پښتنو ته ورکوي، یا دا چې د وزیرستان پښتنو ته د دوی ځمکې ورسپاري.

له بل پلوه په حکومت کې لوړپوړو چارواکو خپل، خپل جنایتکار او ترهګر ګروپونه درلودل، دغو ګروپونو به د خېریه موسسو بهرني فعالان او شتمن افغانان تښتول، په لویو، لویو غلاګانو او د مخدره توکو په قاچاق کې ښکېل وو، لنده دا چې هر ډول بشر ضد کړنې یې ترسره کولې، د جمعیت ډلې جنګسالار او د کرزي حکومت د دفاع وزیر او ولسمشرۍ مانۍ مرستیال ملا محمد قسیم فهیم له دا ډول مجرمانو ملاتړ کاوه. امریکایانو چې د فهیم پر ملاتړ یې د طالبانو امارت وپرځاوه، په لومړیو کې د دوی نازولی ؤ خو کله چې خپلې موخې ته ورسیدل نو فهیم یې د بشري حقونو له سرغړوونکو او مخدره توکو له قاچاقبرانو څخه وباله. په افغانستان کې د یوناما پخوانی مشر کای ایډه لیکي:«فهیم د پخوانیو جنګسالارانو څخه یو ؤ، د مخدره موادو په قاچاق کې ښکېل او د بشري حقوقو د سرغړاوي تورونه هم پرې پورې وو.» (په افغانستان کې د واک پر سر شخړه. ژباړن: سمیع الله ایلم. ۱۹۱مخ)

تر دې چې د ولسمشرۍ په ټاکنو کې امریکایان د ولسمشر د لومړي مرستیال په توګه د مارشال[؟] فهیم سره مخالفت وکړ چې دا موضوع یې له حامد کرزي سره هم شریکه کړې وه. (ډاکټر رنګین دادفر سپنتا: سیاست افغانستان، روایت از درون ۱۶۰مخ)


(ښي خوا ته رییس خدایداد او حبیب استالفي)

ملا فهیم د افغانستان او سیمې دوه ستر جنایتکاران: سیدالله، مشهور په رییس خدایداد او حبیب استالفي تر خپلې حمایه لاندې ساتلي وو، دغو دوو کسانو په لس ګونو وژنې، تښتونې، غلاګانې او ډول، ډول جنایتونه ترسره کړي وو چې په وژل شویو کې د امنیتي ځواکونو افسران هم شامل وو. وایي چې رییس خدایداد د طالبانو د لومړي امارت پر مهال دوه ځلې بندي شوی ؤ چې دوه ځله له زندانه وتښتید او په ۱۳۸۰ل. ل،

کال کې (چې کابل د شمال ټلوالي بدماشانو په لاس کې ؤ) د یو کس د اختطاف پر مهال د امنیتي ځواکونو لخوا ونیول شو خو هغه د یو تن ډلمشر حضرت سره د کابل د پولیسو له قوماندانۍ څخه وتښتید، حضرت نومی چې د کاپیسا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوسیدونکی ؤ د یوې جرمنۍ میرمنې (کریستیانا) له تښتولو وروسته له خپلې ډلې سره ونیول شو او په شلو کلونو بند محکوم شو. https://www.etilaatroz.com

له هغې وروسته خدایداد لس کاله د پولیسو تر څارنې لاندې ؤ چې درې ځلې د امنیتي ځواکونو لخوا نیول شوی ؤ او درې ځله د مارشال فهیم په ټیلفون خوشې شوی دی او د دریم ځل نیولو پر مهال اړونده اداری ته د فهیم لخوا اخطار هم ورکړ شوی ؤ. pajhwok.com
حبیب استالفي له دویم ځل نیول کېدو څخه لس کاله وړاندې د حبس په جریان کې د پلچرخي له زندانه تښتیدلی ؤ، نوموړی د یو ټکسي چلوونکي په قتل د محکمې لخوا په ۱۸ کالو بند محکوم شوی ؤ. استالفي چې وړاندې له رییس خدایداد څخه په کابل کې د پولیسو لخوا ونیول شو او د هغه د اعدام حکم د ولسمشر حامد کرزي لخوا لاس لیک شوی ؤ.[1]
رییس خدایداد چې په پېښور کې اوسېدهٔ، کابل ته د حبیب استالفي د خوشې کولو په موخه راغی چې ځینې بهرني کسان یرغمل او له استالفي سره یې تبادله کړي خو وړاندې له هغې چې دی نور کسان یرغمل کړي هغه په خپله د ملي امنیت لخوا ونیول شو چې د ۱۳۹۳ل. ل، کال د کب میاشتې په ۹مه نېټه، د حبیب استالفي له اعدام څخه ۴ میاشتې وروسته اعدام شو.
کله چې دا دوه کسان اعدام شول چې (ځینې یې د معاصر تاریخ تر ټول ستر جنایتکاران بولي) د استالفي او رییس خدایداد خواخوږو افسوس کاوه چې که مارشال صاحب ژوندی وای نو دغه دوه کسان د دوی په اصطلاح (عیاران) او شېر شمال حبیب استالفي به نه وای اعدام شوي.




په شمال کې د خپل سرو وسله والو څخه چې د حکومت د لوړ پوړو چارواکو او پارلمان له ځینو وکیلانو لخوا حمایه کیدل، یو هم د جمعیت باند پخوانی قوماندان جان احمد خان ؤ. جان احمد خان د اجرائیه رییس ډاکټر عبدالله له سلاکارانو څخه هم ؤ.
د ۱۳۹۴ل. ل، کال د چنګاښ په میاشت کې د پروان ولایت د دایان په سیمه کې بهرنیو ځواکونو د جان احمد خان د وسلو یو وسله تون د شپې لخوا په چاودیدونو توکو والوزاوه چې په هغه کې په زرګونو وسلو او مهماتو شتون درلود.
اجرائیه رییس عبدالله په دې اړه نیوکه وکړه، هغه د کابینې په غونډه کې وویل چې د سیمې د خلکو اندېښنې یې راپارولې دي، هغه زیاته کړه چې **دا ډول عملیات د مجاهدینو پر وړاندې توطیه ده ؟!**
د بهرنیانو پر دې عمل باندې د سیمې لنډغرو اعتراض وکړ او د کابل او مزار شریف لویه لار یې د څه مودې لپاره وتړله خو کله چې د دوی مشر ډاکټر عبدالله له مظاهره‌چیانو وغوښتل لاره خلاصه کړي نو د خپل مشر په خبره یې لاره پرانیستله.
د نوموړي زېرمه تون له ویجاړولو وروسته په حکومت کې د بهرنیو چارو وزیر او د جمعیت باند مشر صلاح الدین رباني، د بلخ والي او د جمعیت اجرائیه رییس عطا نور، په حکومت کې اجرائیه رییس ډاکټر عبدالله، د ملي امنیت پخوانی رییس امرالله صالح، د مشرانو جرګې مرستیال محمد علم ایزدیار او نور کسان چې ټول د جمعیت باند غړي وو، د قوماندان جان احمد په کور کې راټول او د بهرنیانو دغه عملیات یې وغندل. امرالله صالح وویل چې په دا ډول

[1]: له حبیب استالفي سره یو ځای هغه پنځه تنه غله او زناکاران چې په پغمان کې یې پر یوې کورنۍ چې له واده څخه خپل کور ته راستنه شوې وو، په لاره کې، شپې مهال تیری او زبرزنا کړې وه هم اعدام شول. (د ۱۳۹۳ل. ل، کال د تلې په ۶مه نېټه)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

عملیاتو باندي ټول نیوکه کوي، موږ دلته د دې لپاره راغلي یو چې له قوماندان جان احمد سره خواخوږي څرګنده کړو...
جان احمد په خپل غبرګون کې وویل چې که د راغلو مشرانو غوښتنه نه وای نو **حکومت ته مې تغیر ورکاوه. [!]**
د ناټو د غوځ ملاتړ ځواکونو ویاند وویل چې د وسلو زېرمتون شته والي دا احتمال درلود چې د دوی او حکومت پر وړاندي وکارول شي.



(د جمعیت باند لوړپوړي چارواکي د جان احمد خان په کور کې)

نېټه:۱۴۰۲/۶/۴ل. ل

**نور بیا**

د لیکوال: آرشیف


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ